مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۴/۰۴/۲۶

د پوهنتون خاطرې

(۸)

د پوهنتون دوره مې د کابل له ویجاړونکیو جګړو سره موازي روانه وه. د جګړه مارو ډلو د مشرانو او نیمه مشرانو کورونه په پاکستان او ایران کې ول. دوی به تفریح ته هملته ور تلل؛ خو جګړې ته خپل وطن ته. د دوی نازولي بچیان به ټوله شپه په ارام خوب ویده ول؛ خو د کابل ښاریانو له کوچنیانو او لویانو یې خوب لوټلی و. هره شپه او ورځ به د دوی له لاسه سکروټې بادیدې او د کابل پر فضاء به د باروتو د شنو او ترخو لوګیو دویم اسمان جوړ و .
کله کله به راته سوال پیدا شو چې ښه، که یې په خپلو کې سره دښمني وي؛ نو ولې دلته یو بل ته څه نه وایي او ټول زور په کابل کې ازمایي؟ دښمني پالل خو کوم خاص مکان پورې اړه نه لري؛ بس چې دښمنان سره مخ شي؛ نو یو د بل د له منځه وړلو کوښښ کوي. بیا به مې ویل: لکه چې د کابل د رنګولو ټیکه یې اخیستې او خپلمنځي اختلافات یې هسې خوشې پلمه ګرځولي ده.
دوی هغه ماران ول چې د کوم تور پاړوګر په اوده کې ول. که دلته په یوه ټوکرۍ کې هم اچول شوي وای؛ نو یو بل ته یې حتا بدې نه شوای کتلی .
په همدغسې ورځو کې له کابله یو پلاوی راغی. دې پلاوي خپل راوړي معلومات د جلوزو کیمپ په فامیلیو کې په یوه پرانیسته غونډه کې شریکول. ځینې محصلان ور دعوت شوي ول او زه هم د دې محصلانو په ډله کې وم. دې غونډې ته مې د شعر په نوم په سوال او ځواب فورم کې خپلې ګډې وډې خبرې راټولې کړې وې. اول مې له یو دوه ملګرو سره شریکې کړې؛ خو هغوی یې د ویلو مشوره نه راکوله. یوه خو حتا په جدیت راته وویل: ته خو به په غم ککړ شې؛ چې موږ ته کار و نه ګورې!
ټوله شپه په همدې چورت کې وم؛ وه یې وایم او که نه؟ حتا ګډوډ خوبونه مې لیدل. ځینو خوبونو کې به د شعر له ویلو وروسته وهڅول شوم او ځینو کې به غم جوړ و .
غونډې ته لاړو، زړه نازړه وم؛ خو اخر مې نوم د ویناوالو په لیست کې داخل کړ .
غونډه پیل شوه. راغلي پلاوي خپل معلومات په داسې انداز شریک کړل؛ لکه د اوبو له ډکو سطلونو سره چې تللي وي او د ټپي کابل پر وجود په لګیدلي اور یې شیندلي وي .
له څو ویناوالو وروسته مې ستیج چلوونکي نوم واخیست، پورته شوم. د خلکو منځ کې ستیج ته لاړم او شعر مې شروع کړ. کله کله به مې د سترګو په کونجونو کې د ستیج خواته د ناست پلاوي حرکتونه څارل چې د ناراحتۍ او قهر نښې پکې له ورایه ښکاریدلې. اندیښمن به یې کړم؛ خو د غونډې د ځینو برخوالو تشویق به بیرته ډاډه کړم .شعر خلاص شو، چې بل څوک یې ستیج ته غوښته، نو په همدې فرصت کې مې له غونډې پښې سپکې کړې او تر ډیره د غبرګون په اندیښنه کې وم؛ خو د خدای فضل و، چا مې پوښتنه ونکړه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د هغه شعر سرلیک
(ړوند نظر) و او دغه شی و:

ما ویل: بس که نور اختر ښه دی
ده ویل: مظلوم لره محشر ښه دی
ما ویل: یتیم له حاله لږ خبر شه
ده ویل: له غم ځینې حذر ښه دی
ما ویل: ماشوم له موره غواړي کالي
ده ویل: ګرمي ده، لنډغر ښه دی
ما ویل: مړه شوو د یخنۍ له لاسه
ده ویل: د ژمي پېښور ښه دی
ما ویل: وسوو، لا تر څو به سوزو
ده ویل: په اور کې سمندر ښه دی
ما ویل: کباب شوو د وحشت په لمبو
ده ویل: عاصي لره سقر ښه دی
ما ویل: خبرو دې خلک وغولول
ده ویل: ساحر لره منتر ښه دی
ما ویل: وطن په کنډوالو بدل شو
ده ویل: غله لره کنډر ښه دی
ما ویل: له شکله مو وطن ویرېږي
ده ویل: په قبر کې منکر ښه دی
ما ویل: نړۍ ته مو سر ټیټې کړلو
ده ویل: له تاسو نه ډالر ښه دی
ما ویل: خلک تماشې کړي زموږ
ده ویل: دا زموږ هنر ښه دی
ما ویل: له مړو هدیرې ډکې شوې
ده ویل: له ډیرو نه یو سر ښه دی
ما ویل: ستاسې بچي ولې نه مري؟
ده ویل: حکم د قدر ښه دی
ما ویل: خیر ولې وږي تږي نشول؟
ده ویل: بخت یې زورور ښه دی
ما ویل: بخت یې کړ له کومه پیدا ؟
ده ویل: بس کړه ترې ګزر ښه دی
ما ویل: دا دور به خدای کړي بدل
ده ویل: چې زر وي، سمه او غر ښه دی
ما ویل: ځان ته دې هیڅ ځای پرېښود
ده ویل: دا ځای نه، قطر ښه دی
ما ویل: تا سره حساب به کوم
ده ویل: تاته هم خنجر ښه دی
ما ویل: لږ خو راته ځان ښکاره کړه
ده ویل: ړوند د تا نظر ښه دی
ما ویل: نعمان له غمه پرېښود ژوندون
ده ویل: ماشوم دی، مرور ښه دی

۱۳۷۳/۱۲/۳ - دعوت او ج ه اد پوهنتون، مرکزي لیلیه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ